# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د زمري پنځمه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲٦مه | ۵۷۳یمه ګڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### د شهید سید جان د لوړو زده کړو طبي موسسه

د یادې موسسې اداره وايي، دوی د کندوز بد امنیتي وضعیت ته په کتو، د خپلو محصلینو لپاره ان اویا سلنه تخفیف هم ورکړی دی.



# د حکومت پر کړنو شکونه؛

## نبیل: د سیمې او پاکستاني استخباراتو کسان په حکومتي ادارو کې په دندو ګومارل شوي



۳

### نوري: په خوست کې له ۳۲۵ بېوزلو کورنيو سره د څارويو مرسته شوه



د خوست د کرنې او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې د«اړیکو دفتر» په همکارۍ د دغه ولایت په مرکز او دغه راز علي شېر، باک، صبریو او موسی خېلو ولسوالیو کې ۳۲۵ کورنیو ته غواوې، مېږې او وزې ورکړل شوي دي.
په دې موخه په جوړه شوې غونډه کې د خوست والي محمدصدیق پتمن په دغه ولایتکې د بېوزلو کورنیو د ملاتړ او د یاد ولایت د مالدارۍ د پراختیا په پار د کرنې وزارت کړنې وستایلې او یاده پروژه یې د بېوزلو کورنیو د عوایدو د لوړولو په برخه کې اړین ګام وبلله.
په همدې حال کې د خوست د کرنې رییس حفیظالله شاه نوري ویلي، چې په یادو ولسوالیو کې د غواوو، مېږو او وزو د وېش په پار سروې شوې، چې د سروې له مخې د ۳۲۵ اړمنو کورنیو د اقتصادي ودې په پار دوی ته غواوې، مېږې او وزې ورکړل شوي دي. نوري ویلي، چې د دې پروژې ټولیز لګښت ۲۲.۵ میلیونه افغانۍ ده.

### په سوله کې شته بندون باید مات شي!

۲ مخ

### د ستراتیژیکو مطالعاتو انستیتیوت د ۳۳ میلیونه ولس عقیدې ته توهین وکړ

۲ مخ

### د پنجاب د غصب او یرغل پر وړاندې چوپتیا مرګ ده

۳ مخ

### ملي امنیت شورا: تېره اونۍ په هېواد کې د جګړو له کبله ۱۳۹ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د ملي امنیت شورا پخپل اونیز راپور کې ویلي چې تېره اونۍ د وسله والو طالبانو په بریدونو کې ۱۳۹ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.
یادې شورا ویلي چې په تېرو اوو ورځو کې د وسله والو طالبانو په ۴۰۱ بریدونو کې۴٦ تنه وژل شوي او ۹۳ نور ټپيان شوي دي.
د یادې شورا په وینا، د طالبانو لخوا دغه مرګ ژوبله د افغانستان په ۲۳ ولایتونو کې رامنځته شوې چې تر ټولو ډېره یې په هلمند، بادغیس او غور ولایتونو کې ده.
د امنیت شورا په اعلامیه کې راغلي: «د طالبانو د ۴۰۱ فعالیتونو له کبله ۱۳۹ ولسي وګړي شهیدان او ټپيان شوي دي.» دغې شورا د طالبانو لخوا د ملکي خلکو په نښه کول د ټولو اصولو خلاف بللي دي.
ملي امنیت شورا داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې وسله والو طالبانو تل ورته راپورونه رد کړي او هغه یې د حکومت پروپاګند یاد کړی دی.
په افغانستان کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړه راپور پر داسې مهال ورکول کیږي چې د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره د هیلو له زیاتېدو سره هممهاله په دې وروستیو کې په افغانستان کې جګړو او چاودنو زور اخیستی دی.
دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ په افغانستان کې د یوناما مشرې ډېبورا لاینز په دغه هېواد کې د جګړې په ښکېلو خواوو غږ وکړ چې د جګړې په درولو سره د سولې بین‌الافغاني مذاکراتو ته لاره هواره کړي.

### د مصالحې عالي شورا: حکومت او طالبان دې د بندیانو د خلاصون بهیر په سوله ییزه توګه بشپړ کړي



۵ مخ

### حارس: با گذشت یک‌سال تاکنون ادارۀ بازرس چارچوب قانونی ندارد



رئیس ادارۀ بازرس افغانستان می‌گوید که این نهاد هنوز چارچوب قانونی ندارد و به‌همین دلیل نتوانسته‌است کارش را برای رسیده‌گی به ادعاهای فساد در برابر فسادپیشه‌گان - به‌ویژه مقام‌های بلندپایه حکومتی - آغاز کند.
این در حالیست که رئیس‌جمهورغنی، دوسال پیش در فرمانی این اداره را ایجاد کرد. در فرمان رئیس‌جمهور آمده‌است که طرح چارچوب قانونی این اداره در سه ماه باید آماده شود.
اما اکنون با گذشت یک‌سال، غزال حارس، رئیس این اداره می‌گوید که تاکنون ادارۀ بازرس چارچوب قانونی ندارد و کاری را در زمینۀ رسیده‌گی به اتهام‌های کلان درباره فساد و ادعاها دربارۀ بهره‌گیری جنسی در دفترهای دولتی انجام نداده‌است: «هرگاه طی مراحل قانونی صورت گرفت، ادارۀ بازرس می‌تواند عملاً شکایت‌های مردم را در رابطه مقامات عالی رتبه دولتی دریافت بکند.» رئیس‌جمهور، یک‌سال پیش در مراسم معرفی غزال حارس، به‌حیث رئیس ادارۀ بازرس افغانستان گفته بود که این ادار می‌تواند تمامی ادعاها بر مقام‌های حکومت - حتا رییس‌جمهور - را بررسی کند و از همین رو این اداره ایجاد شده‌است. رحمت‌الله بیژن پور، آگاۀ سیاسی در این باره اظهار داشت: «در حقیقت این بازرس در دستور رئیس‌جمهور قرار دارد. رئیس‌جمهور در هر بازیی که درگیرش کرد و هرجایی که فرستاد طبیعتاً همان کار را انجام می‌دهد. چارچوب وظایف قانونی آن تعریف نشده‌است.» ادارۀ بازرس افغانستان در اوضاعی ایجاد شد که انتقادها از فساد گسترده در حکومت بالا گرفتند و حتا در ارگ ریاست‌جمهوری کسانی در بهره‌گیری جنسی از زنان متهم ساخته شد.




Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازي ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریـــځ

### په سوله کې شته بندون باید مات شي!

د افغان سولې په تړاو هڅې له یو بندون سره مخ شوې دي او هېڅ نوی مثبت تحریک پکې نه ښکارېږي. وسله والو طالبانو ویلي چې که حکومت یې پاتې ۶۰۰ بندیان ور خوشې کړي، نو له اختر وروسته به خبرې پیل کړي، خو حکومت وایي، دا بندیان نه خوشي کوي. په دې سره د سولې په پروسه کې یو خنډ پیدا شوی چې د بین الافغاني خبرو د پیل او پرمختګ مخه یې بنده کړې ده. د دې تر څنګ په وروستیو کې په ټول هېواد کې جګړو او نښتو هم زور اخیستی چې پکې ملکي وګړو ته هم پراخه مرګ‌ژوبله اوښتې ده.
د سولې په خبرو کې دا بندون د افغانستان د خلکو د هیلو او غوښتنو خلاف دی او خلک یې اندېښمن کړي دي. له بده مرغه ښکېل لوري د افغانستان د خلکو غوښتنو ته پام نه کوي او ډېر کوچني مسایل یې جدي نیولي او د سولې په لاره کې خنډونه جوړوي. د افغانستان حکومت تر څلورو زرو زیات بندیان خوشې کړل، خو شپږ سوه بندیان نه خوشې کوي او د جګړې دوام ته یې لاره هواره کړې ده. حکومت چې د بندیانو د نه خوشي کولو لپاره کوم دلایل راوړي، له بده مرغه کمزوري دلایل دي او له سولې سره د مخالفت بوی ترې راځي. که د شپږ سوو بندیانو په خوشې کولو سره د سولې بین الافغاني خبرې پیلېږي، نو حکومت باید ژر تر ژره دا بندیان خوشي کړي او په هېڅ ډول یې ساتل د افغانستان په ګټه نه دي. اوس چې طالبان وایي، که یې بندیان خوشې شي، نو له اختر وروسته بین الافغاني خبرې پیلوي، نو ټول پام د حکومت طرف ته دی چې دې خبرې ته مثبت ځواب ووایي. حکومت باید دا بندیان خوشې کړي او که بیا طالبانو خبرې پیل نه کړې، نو بیا به حکومت نه، بلکې طالبان مسوول وي او خلک به پرې فشار راوړي. له بله اړخه که حکومت هم دا کار نه کوي، نو طالبانو ته پکار ده چې د سولې لپاره یوه بله قرباني ورکړي. دوی باید د حکومت پلمه ختمه کړي او د شپږ سوو نورو طالبانو لېست دې حکومت ته وسپاري چې خوشې یې کړي.
په دې سره به د بین الافغاني خبرو پیل ته لاره هواره شي او دا چاره به د ټولو بندیانو د خوشې کولو سبب شي.
ښکېل اړخونه که په سوله کې رېښتیني وي، نو نه یوازې د سولې په لاره کې باید خنډونه جوړ نه کړي، بلکې له خپله اړخه لا زیاتې قربانۍ ته تیار وي. له بده مرغه اوس ښکاري چې حکومت د سولې په لاره کې خنډونه جوړوي او طالبان هم پخپله خبره کلک ولاړ دي او هېڅ انعطاف نه ښیي. له همدې امله بین الافغاني خبرې ځنډېدلي، د سولې پر وړاندې خنډونه دي، جګړه او وژنې زیاتېږي او سولې ته د خلکو هیله ورځ تر بلې کمېږي. اوس پکار ده چې دا بندون مات شي. که ښکېل اړخونه دا بندون مات کړي، نو دا به یو ښه ګام وي او که ښکېل اړخونه دا کار نه کوي، خلک باید را پاڅېږي او د هغوی مخه ونیسي چې د سولې په لاره کې خنډونه جوړي او نه پرېږدي چې جګړه ختمه شي.

# د ستراتیژیکو مطالعاتو انستیتیوت د ۳۳ میلیونه ولس عقیدې ته توهین وکړ

لیکوال: نصرت الله حقپال

### آیا ستره محکمه د خلکو له عقیدې دفاع کولی شي؟

د کابل په کارته پروان سیمه کې میشت د «افغانستان د ستراتیژیکو مطالعاتو انستېتیوت» په ۱۳۹۹/۴/۱۲ نېټه یو راپور چې دوی ورته «تحقیق» وایي، د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت په روزنیز نصاب کې د «اسلامي رادیکالېزم»د شتون په اړه خپور کړ چې په هغه کې ادعا شوې چې په تعلیمي نصاب کې د اسلامي افکارو، احکامو او ارزښتونو شتون، زده کوونکي رادیکال کوي او د رادیکالېزم سبب ګرځي.
دغه راپور چې په pdf بڼه باندې ۱۳۲ پاڼې کیږي، له سره په دې راټول دی چې د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت د ښوونځیو په روزنیز نصاب کې د اسلامي افکارو او احکامو موجودیت، د دې باعث کیږي چې ماشومان/زده کوونکي رادیکال افکار خپل کړي او د اسلامي مفاهیمو شتون، په خپل ذات کې د اسلامي رادیکالېزم سبب ګرځي.
دوی په ډانګ پیبله غوښتي چې د معارف نصاب دې د اسلامي مفاهیمو (افکارو/احکامو) له شتون څخه پاک شي او د معارف نصاب باید سیکولر ( غیر اسلامي) شي. ۳یم مخ.
راپور په خپله ۳۸مه پاڼه کې وایي چې: «ټول د ژبې او ادبیاتو کتابونه پښتو او دری د الله او د پیغمبر په حمد او ثنا پیلېږي. راپور زیاتوي چې دیني مسایل باید دیني کتابونو ته ځانګړي شي، نه ټولو کتابونو او ټول روزنیز نصاب ته. خو په افغانستان کې ټول تعلیمي نصاب کې دیني مسایل ځای پر ځای شوي دي».
په ۳۹مه پاڼه کې وایي: «انځورونه، اشکال او نښې، تر ډېره دیني بڼه لري. د انسان فردي او جمعي حافظه داسې ده چې اشکال او انځورونه ژر عکاسي کوي او ذهن ته یې سپاري. راپور زیاتوي چې دغه اشکال او انځورونه کرار کرار د ټولنې فردي او جمعي حافظې ته انتقالیږي او زده کوونکي بیا له نورو سره په خدای باوری، اعتقاد او جزمیت سره تعامل کوي، ، د دې په ځای چې د استدلال، تفکر او تعقل په ژبه خبرې وکړي». مانا دا چې له ماشوم څخه مسلمان/مومن جوړیږي، نه یو سیکولر او نامسلمان.
د راپور لیکوال په ډېر صراحت او سپین سترګۍ سره د اسلام صریحو او قطعي احکامو ته اهانت کوي او وایي چې د دغو مسایلو شتون، د دیني رادیکالېزم سبب ګرځي. د بېلګې په توګه، د ۴۶م مخ په دریېم پراګراف کې لیکي: «په پورته نقل قولونو کې موږ د افغانستان د معارف نصاب کې د دیني رادیکالېزم له بشپړې کڅوښې سره مقابل یو چې له امر باالمعروف او نهی عن المنکر څخه شروع او په جنګ او جهاد ختمېږي».
په ټوله کې دغه راپور په دې راټول دی چې اسلام او د اسلامي افکارو او احکامو شتون د معارف نصاب کې دیني-اسلامي رادیکالېزم او د رادیکالېزم سبب کیږي. دوی په سپینه وړاندیز کوي چې د معارف له نصاب څخه دې اسلام او د هغه مفاهیم لرې شي او نصاب دې په ټوله مانا غیر اسلامي او سیکولر شي.
جالبه خو دا ده چې انستېتیوت خپل دغه مزخرف، له کینې او تعصبه ډک او پروژه اي راپور ته د تحقیق نوم ورکړی دی. د اجیرو او سیکولرانو لپاره هر هغه شی/څیز تحقیق او مطلق حق/واقعیت ښکاري، هغه چې په امریکا او اروپا کې رواج وي.
انستېتیوت له دې غافله دی چې اوس خو هیڅ قطعي شی په دنیا کې نشته. هره طبیعي او اجتماعي پدیده تغییر منونکې او بدلیدونکې ده. حتی ساینس او ساینسپوهان په ډېرو مواردو کې د نظر اختلاف لري. یوه ډله یوې نتیجې ته رسیدلې وي، بله ډله یې بلې نتیجې ته. تر ټولو ښه او وروستۍ نمونه یې د کرونا ناروغۍ د درملنې او درملو په اړه ده.
دا له کینې، کرکې، عداوت او تعصبه ډک او پروژه اي راپور له خپریدو سره سم، په ټول هیواد کې غوغا جوړه شوه او د ټولنې مختلفو اقشارو لکه: علماوو، سیاستوالو، لیکوالانو، د پارلمان غړو توند غبرګون وښود او د دې راپور د جوړوونکو او خپروونکو د محکومولو تر څنګ، د دوی د عدلي او قضایي تعقیب غوښتونکي شول او حتی د ولسي جرګې لخوا څخه استجواب ته را وغوښتل شول او رسماً څارنوالی ته معرفي شول.
د انستېتیوت (د افغانستان د ستراتیژیکو مطالعاتو انستېتیوت) مشران د ولس او پارلمان له توند غبرګون سره له مخ کېدو وروسته، یاد راپور له شاوخوا ۱۸ ورځو (د چنګاښ له ۱۲مې-۳۰مې، ۱۳۹۹کال) وروسته چې په خپل رسمي ویب سایټ (https://aiss.af/persian/) کې خپور کړی و، له خپل ویب سایټ څخه لرې کړ.
د نوموړي انستېتیوت مشرتابه، د یوه رسمي مکتوب له لارې چې د ولسي جرګې او د هغې د رییس عنواني صادر شوی، په ډېره سپین سترګۍ د یاد راپور له خپرولو، لیکلو او محتوا څخه انکار کړی او هغه یې د یوه خصوصي پوهنتون د ماسترۍ تیزس ګڼلی دی.
دا په داسې حال کې ده چې یاد راپور د همدغه انستېتیوت له رسمي ویب سایټ څخه په سلګونو کسانو ډاونلوډ کړ، ویې لوست او غبرګون یې ور باندې وښود.
دا یو مشهود جرم دی. مشهود جرم هغه وینا/عمل دی چې په عام محضر کې شوی وي او ډېرو خلکو لیدلی/اوریدلی وي. د دوی راپور خو ډېرو خلکو نه، بلکې ټولې نړۍ ولید او ویې لوست.
انستېتیوت او مشرتابه یې د افغانستان د ۳۳ میلیونه نفوس عقیدې او مقدساتو ته توهین او سپکاوی کړی دی. ځکه چې اسلام د افغان ولس تاریخي او عملي هویت/عقیده دی. د افغانستان د جزا کوډ د ۳۲۵مې مادې له مخې (هغه شخص چې د اسلام د سپیڅلي دین معتقدات یا حکمونه توهین یا تحریف کړي، په متوسط حبس محکومیږي)، دغه اداره باید بنده او لوړ پوړي مسوولین یې په سخته جزا محکوم شي.
موږ په دې پوهیږو چې انستېتیوت یو اجیر او کرا شوی بنسټ دی چې د افغان حکومت او په کابل کې میشت د اروپایي او امریکایي سفارت خونو او نورو ادارو لخوا یې سیاسي، فکري او مالي ملاتړ کیږي. که چیرته افغان حکومت د دې اجیر او اسلام ضد مرکز ملاتړ نه کولی، نو دوی به هیڅ کله هم د افغان ولس عقایدو او مقدساتو ته سپکاوی نه و کړی.
خو له دې سره سره، دا د افغان پارلمان او سترې محکمې شرعي او اخروي مکلفیت دی چې دغه بنسټ او مشرتابه یې محاکمه او تر ټولو سخته سزا باندې محکوم کړي. ځکه دوی دومره ستر جنایت کړی چې شاید د افغانستان په تاریخ کې چا نه وي کړی. دغه انستېتیوت ۳۳ میلیونه افغان ولس او د دوی عقایدو او مقدساتو ته توهین کړی، نو تر دې ستر جنایت چیرته دی؟
خو د افغانستان مسلمان ولس باید په یاد ولري چې دا به په خپل ذات کې د سیکولرانو او د غرب د فکري بندګانو لومړۍ او وروسته اهانت، تعرض او تحریف نه وي چې د اسلام په وړاندې یې کوي. د دغو خلکو له نظره، اسلام ټول رادیکالېزم او هر مسلمان رادیکال دی. دوی په اصل کې د اسلام نابودۍ ته ملا تړلې، خو دا چې اوس هم په افغان ټولنه کې اسلام او مسلمانان اکثریت او قدرت من دي، نو خپله اصلي څېره پټه ساتي.
که زموږ مسلمان ولس او هر وګړی یې د سیکولریزم او د اسلام د فکري او فرهنګي نابودۍ د روان توپان په ضد و نه دریږي، لرې به نه وي چې بله ورځ مو په ستوني پښه کیږدي او موږ د چغې د پورته کولو صلاحیت/قدرت ونه لرو.

# امریکایي پوځ: روسیې له خلیفه حفتر څخه د ملاتړ په پار لیبیا ته درنې وسلې او جنګي الوتکې استولې



په افریقا کې د امریکا د پوځ قوماندانۍ ادعا کړې چې روسیې په لیبیا کې ځان ته د پښې ځای د پیدا کولو په موخه دغه هېواد ته وسلې او الوتکې استولې دي.
پر روسیې دا تور په داسې حال کې لګول شوی چې په لیبیا کې ښکېلې خواوې د سِرت ساحلي ښار د کنټرول لپاره له یو بل سره په جګړه بوختې دي.
پر روسیې تور دی چې د لیبیا په ختیځ کې د خلیفه حفتر د پوځ ملاتړ کوي، هغه وسله‌وال چې په طرابلس کې له حکومت سره چې ملګرو ملتونو په رسمیت پېژندلی، جګړه کوي.
د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون داسې تصویرونه خپاره کړي چې په وینا یې، د روسیې له‌خوا د واګنر ډلې ته چې په لیبیا کې بوخت روس شرکت دی، د تجهیزاتو د استولو دوام ښیي.
د پنټاګون په وینا، د روسیې په بار وړونکو الوتکو کې د واګنر جنګیالیو ته د جنګي جېټ الوتکو، زغره‌والو ګاډو، لاریو او د هوایي دفاع د تجهیزاتو لېږد لا هم روان دی.
پنټاګون تر دې مخکې هم مسکو لیبیا ته د جېټ الوتکو په استولو تورن کړی او د دې میاشتې په پیل کې یې ویلي وو چې د واګنر ډلې د لیبیا د پلازمېنې طرابلس دننه او بهر ماینونه ایښي دي.
په افریقا کې د امریکا د پوځ قوماندانۍ همدارنګه ویلي، روسیه په مدیترانې سمندرګي کې د خپل اوږدمهالي حضور لپاره له واګنر نظامي شرکته د یوې نیابتي ډلې په توګه کار اخلي.
په افریقا کې د امریکا د پوځ قوماندانۍ د استخباراتو مرستیال جنرال ګریګوري هډفېلډ ویلي، لیبیا ته د روسیې له‌خوا استول شوي تجهیزات بشري مرسته نه‌ده.
نوموړي په یوه خبرپاڼه کې ویلي، د تجهیزاتو له ډولونو او کچې داسې ښکاري چې مسکو غواړي هلته خپله جګړه‌ییزه وړتیا لوړه کړي.
پر روسیه تور پورې دی چې د لیبیا په ختیځ کې د قوماندان خلیفه حفتر له‌خوا د خپل‌سره اعلان شوي ملي پوځ ملاتړ کوي.
فرانسه، مصر او متحده عربي امارات هم د خلیفه حفتر د ځواکونو ملاتړ کوي او دغه ځواکونه د لیبیا د هغه حکومت پر وړاندې جنګېږي چې ملګري ملتونه‌یې په رسمیت پېژني.
ترکیه بیا برعکس د لیبیا له حکومته ملاتړ کوي او د همدې حکومت د مرستې لپاره‌یې دغه هېواد ته سرتېري، بې‌پیلوټه الوتکې او سوریایي جنګیالي استولي دي. قطر او ایټالیا هم په دې برخه کې د ترکیې ترڅنګ ولاړ دي.
د مصر پارلمان بیا تېره اونۍ تایید کړه که د ترکیې په ملاتړ ځواکونه د سرت ښار خوا ته پرمختګ وکړي، دوی به‌یې په ځواب کې مستقیمه پوځي مداخله وکړي.
له دې سره داسې وېره شته چې د لیبیا د سرت ښار پر سر لانجه به د ناټو غړې ترکیې او په سیمه کې د امریکا متحدان په مستقیمه شخړه کې ښکېل کړي.
امریکا بیا په لیبیا کې د اوربند ملاتړ کوي چې دغلته د لانجې سیاسي هواري ته لاره برابره کړي.
د یادونې ده چې په لیبیا کې کورنۍ جګړه په ۲۰۱۱ زکال کې هله پیل شوه چې د ناټو په ملاتړ پاځون کوونکو د دغه هېواد پخوانی مشر معمر الاقذافي له واکه لرې او وواژه.

# د پنجاب د غصب او یرغل پر وړاندې چوپتیا مرګ ده

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

په تېرو ۲۰ کلونو کې تل د ډیورنډ پر فرضي کرښه میشتو ولسونو د پاکستان د سرحدي سرغړونو، افغان ضد کړنو او له دوامداره یرغلونو څخه شکایتونه کول.

ولې دغه رویه په تېرو ۸ کلونو کې تر ټوله سپکه بڼه او ناوړه بدلون کړی، د بېلګې په توګه، پاکستان په دې موده کې لږ تر لږه ۲۷ ځایه سرحدي بریدونه مات کړي او له ۵ تر ۲۰ کیلومترو یې افغان خاوره غصب کړې، په ۱۷ نقطو کې یې د افغان خاورې دننه ستراتیژیک امنیتي او دفاعي تاسیسات جوړ کړي، کلونه کېږي چې له ننګرهاره تر کونړه او کندهاره په پرله پسې توګه افغان خاوره پر توغندیو ولي چې په پایله کې یې زرګونه افغان کورنۍ د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوې، ځاني او مالي زیانونه یې ور اړولي، همدارنګه له تیرو ۲ کلونو راهیسې یې د اغزن تار او په افغان خاوره کې د دروازو پر جوړولو هم اقدام کړی.

تازه پېښې یې د ننګرهار دوربابا څخوبي سیمه او د کونړ په مروره کې د نویو دروازو جوړولو او په یو نادر ګام کې د کونړ مرکز اسعداباد په توغندیزو راکېټونو ویشتل دي.

په متقابل ګام او غبرګون کې افغان ولس، ملي شورا او د چارو شنونکي د پنجاب د دغه بې شرمانه یرغل پر وړاندې دربځ نیسي او توند غبرګونون وښیي؛ مګر افغان حکومت تل له سیاسي لارو د پنجاب د یرغل، غصب او اشغال ژمنې وکړې، ولې پایلې یې صفر او حتی لا ورځ تر بلې د پنجاب لخوا د نویو او لا یرغلګرانه تیریو شاهدان یوو.

**له پنجاب سره د څو معاملو بېلګې:**

۱- د اوسني حکومت پر مهال عملاً د پاکستاني حکومت له لوري په تورخم او چمن کې سرحدي دروازې جوړېږي، د باډر اصطلاح ورته یاده شوه او له عمران خان سره په پرانیستې کې یې د ننګرهار پخواني والي چې تازه د دفاع وزارت مرستیال شوی، حضور درلود.

۲- بل لور ته د ډیورنډ په کرغېړنه کرښه کې د پنجاب لخوا نږدې ۲ کاله کیږي چې اغزن تار تېرېږي، هغه تار چې ټول لګښت یې امریکایان ورکوي، خو د افغان حکومت له لوري په دط اړوند د ولس او سیاستوالو له جدي اعتراضونو سره، سره تر اوسه یو ګام څه چې یو عادي رسنیز دریځ هم نه دی نیول شوی.

۳ ـ د کونړ، ګوشتې او کندهار ځینې افغان سیمې د یوې معاملې په ترڅ کې پنجاب ته پرېښودل شوې، ولس او رسنیو دا موضوع راپورته کړه، ولې حکومت یې پر سر لا تر اوسه هم پټه خوله دی.

۴ ـ د ملي یووالي حکومت پر مهال د پنجابي حاکمیت مخالف مشهور بلوڅ ملتپاله لکه اجمل بلوڅ چې د کندهار په پرامنه سیمه عینو مېنه کې اوسېده، ترور شو او دې ته ورته ډېر نور ووژل او یا په نښه شول، هغه چاره چې مطلقاً د استخباراتي معاملو بوی ترې راځي.

۵ ـ لطیف الله محسود چې د پنجاب سرسخت دښمن و او دغه خوځښت د مسیدو یو تاریخي ـ مذهبي جریان دی، چې تل یې پنجابي ـ پاکستاني حکومتونو ته د محکوم افغانستان په خاوره کې خنډونه راولاړ کړي، افغان حکومت د پنجاب دا سرسخت دښمن د یوې استخباراتي معاملې په پایله کې پنجابیانو ته لاس تړلی وسپاره.

٦ ـ د پاکستاني طالبانو مشر ملا فضل الله هم له پنجاب او امریکا سره په معامله کې لومړی ونیول شو، بیا یې امریکا ته ځای وښودل شو او ووژل شو.

۷ ـ د آی ایس آی مامورین د لومړي ځل لپاره له اوسني حکومت سره په معامله کې ارګ ته راوستل شول، په ارګ کې وساتل شول او په اخیر کې د امنیت په زندانونو کې د پنجاب ضد زندانیانو دوسیې یې وپلټلې او هغه ټارګیټونه چې هدف وو، تر لاسه یې کړل.

۹ ـ د اوسني حکومت پر مهال پر پښتنو قبایلو د ډیورنډ پر پوله د اوښتو را اوښتو بندیز او پر سر یې معامله وشوه.

۱۰ ـ له پاکستان سره د استخباراتي معلوماتو شریکولو تړون په ارګ کې د ای آیس ای له مشر سره لاسلیک کېدو ته چمتو و چې بیا د پخواني ولسمشر کرزي او افغان ولس د توندو غبرګونونو له امله وځنډول شو.

۱۱ ـ د لومړي ځل لپاره د افغان ملي اردو افسران د پنجاب تعلیمي مرکزونو ته واستول شول.

۱۲ ـ د اوسني حکومت له پیله تر همدا ننه د پاکستان پنجابي پوځ هره ورځ افغان خاوره (کونړ او خوست ولایتونه) په راکېټونو ولي، مګر حکومت پرې چوپه خوله او داسې ښکاري لکه دغه سیمه چې د سهیلي افریقا برخه وي.

**بین الافغاني خبرې او د راکېټونو شدت تصادف که نوې لوبه؟**

د پاکستان لخوا د ډیورنډ له صفري نقطې مخکې تګ، د ننګرهار پر دوربابا او د کونړ په مروره کې په ښکاره توګه په کیلومترونو دننه په افغان خاوره کې د تاسیساتو او دروازو جوړول او پر راکېټونو د کونړ مرکز اسعداباد ویشتل د افغان حکومت له اوږدې چوپتیا سره او بیا په ناڅاپي توګه د شپې لخوا ننګرهار او کونړ ته د امنیت شورا سلاکار ښاغلي محب سفر او هلته له پاکستان څخه د غچ او طالب اوبو ته د پاڼي ویونکو لاسپوڅي بلل، د دې پر ځای چې یو تصادف واوسېږي، د یوې نوې لوبې او معاملې رنګ تر شاه لري.

زه وېره لرم چې ځینې امریکایي، پنجابي او په افغانستان کې دننه پردیپالي امنیتي ـ استخباراتي کړۍ د بین الافغاني مذاکراتو په درشل کې د یوې نوې دسیسې، د ولسي ذهنیت خرابوونکي او په ټوله کې د سولې د روانو هڅو پر وړاندې د بندون، سبوتاژ او حتی ماتې تر درشله د یوې موقع په تمه او د یوې دسیسې په لټه کې دي.

**افغان ولس ته څه کول پکار دي؟**

دا چې د ننګرهار د دوربابا ولسوال ته د پنجاب صوبه‌دار وایي، چې د اغزن تار او دروازو جوړولو د پروژې خنډ نشي، که نه له کابله به منفق شي او ۳ ورځې لا نه وې تېرې چې د ننګرهار د ولایت له مقام څخه ولسوال ته زنګ وهل کیږي چې ته ګوښه او د تل لپاره تقاعد شوی یې، چارې دې د ولسوالۍ اجرایه مامور ته وسپاره او ته کور ته لاړ شه. دا د دې څرګنده ښودنه کوي چې په حکومت کې داسې کړۍ شته چې د شخصي او ټیمي ګټو په موخه په دغو لوبو کې لاس لري، وطن ته خاین دي، پلورل شوي دي، جاسوسان دي او له پنجاب سره د مخالفت په دریځ کې اصلاً همدوی د پنجاب نوکران، چاکران او ورځچارپ برېښي دي.

اوس دې ټولو ته په کتو سره یوازینۍ لاره او د افغانستان د ژغورنې فرصت چې هم افغانان له روان بدامنه، ناوړه او ګواښوونکي حالت څخه د یوه واقعي بدیل په توګه ژغورلی او ورپسې د ښې سبا هیلې تړلی شي، هغه یوازې له سولې ملاتړ، سولې ته فردي او ولسي کار او په ټوله کې د ټولو هغو پر وړاندې درېدل پکار دي چې سوله تخریبوي، د سولې په لار کې خنډونه او ځنډونه را پیدا کوي، د سولې پر خلاف او د سولې د سبوتاژ او بالاخره د سولې یانې افغانستان د ناکامولو او ماتولو هڅې کوي.

افغانان په داسې یوه وضعیت کې چې د چارو واګې یې د وچې ډوډۍ د غلو، سیاسي زعامت یې له بهر څخه را وارد شویو بې بنسټو او په ټوله کې د تاریخ د تر ټولو بدمخو او ورځچارو ـ ځانچارو په لاس کې دی، ولس سولې ته له کار او له سولې څخه له واقعي ملاتړه د ځان، وطن او تاریخ د ژغورلو په لار کې بل انتخاب نه لري.

په همدې بنسټ که غواړو چې چوپ پاتې نشو، نو له سولې ملاتړ وکړئ، څو پنجاب او معاملګر یې رسوا، منزوي او مختورن شي.

# د حکومت پر کړنو شکونه؛

## نبیل: د سیمې او پاکستاني استخباراتو کسان په حکومتي ادارو کې په دندو ګومارل شوي




په حکومتي ادارو کې د سیمې د هېوادونو په تېره د پاکستان د استخباراتي اداري کسان ګومارل کېږي، هغه ادعا ده چې د افغانستان د ملي امنیت پخواني رییس رحمت الله نبیل تېره ورځ په یوه خبري غونډه کې کړې ده.

نوموړي خبریالانو ته وویل چې پاکستان د افغانستان له سولې لنګه غوا جوړه کړې او بې حده سیاسي او اقتصادي ګټه ترې کوي. نوموړي دغه راز وویل چې حکومت د سولې او پیاوړي حکومت د جوړولو په برخه کې هم د پام وړ اقدام نه کوي او په وینا یې هېواد په ښه لوري نه دی روان. نبیل حکومت پر ډیورنډ فرضي کرښه پر معامله هم تورن کړ.

سره له دې چې پر افغان حکومت نیوکې دي، چې پاکستان ته نږدې شوی، خو اوس تازه د ملي امنیت پخوانی رییس وایي چې افغان حکومت له پاکستان سره پر ډیورنډ فرضي کرښه معامله کړې ده. رحمت الله نبیل د واک پر مهال پیاوړی استخباراتي شخص بلل کېده او تر ډېره یې پاکستان ضد دریځ درلود. دی وایي چې افغان حکومت پر ډیورنډ فرضي کرښه معامله کړې او که داسې نه وي، نو حکومت باید د هغه څه په اړه ولس ته معلومات ورکړي وي چې همدا اوس د پاکستاني حکومت له لوري پر یاده فرضي کرښه روان دي.

نبیل دغه راز وایي چې د افغانستان د حکومت په بېلا بېلو ادارو کې د سیمې د استخباراتو، په تېره د پاکستان د استخباراتو کسان ګومارل شوي دي چې دا مسئله د جدي اندېښنې وړ ده. د ده په خبره، دا په ښکاره په افغانستان کې د پردیو په لاس یوه روانه استخباراتي جګړه ده چې حکومت یې پر وړاندې چوپ دی. هغه زیاته کړې، پاکستان د افغانستان له سولې او افغان حکومت ډېر امتیازات اخیستي دي، خو اوس ان په حکومت کې په ځینو مقرریو کې هم د دوی نظر چلېږي. د ده په وینا، ځینې کسان ښایي د پاکستان په مشوره او لارښوونه په حکومت او ځینو ادارو کې مقرر شي. د نبیل په وینا: ((اوس پاکستان هم له حکومته امتیاز اخلي. امتیازونه یې واخیستل، تاسې پوهېږئ چې زه څه وایم؟ د اغزن مزي امتیاز یې واخیست، سوداګریز او اقتصادي امتیاز یې واخیست او حتا په ځینو موردونو کې په مقرریو کې هم لاس لري)).

د حکومت دغه پخوانی چارواکی د ډیورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د پاکستاني پوځ تاسیسات د جدي اندېښنې وړ بولي او په خبره یې، که حکومت په دې تړاو له پاکستان سره معامله نه ده کړې، نو ولې یې یا په اړه ولس ته وضاحت نه ورکوي او یا یې پر وړاندې اقدام نه کوي. د ده په خبره، ډیورنډ یوه ملي داعیه ده او افغان حکومت باید د یوه مسوول حکومت په توګه په دې اړه د ولس اندېښنو ته ځواب ووایي.

رحمت الله نبیل د سولې د مسئلې په اړه هم وویل چې د افغانستان سوله د سیمې د هېوادونو په تېره د پاکستان لپاره په یوه لوبه او سوداګرۍ بدله شوې ده. د ده په خبره، پاکستان داسې لوبه کوي چې هر څه د دوی په ګټه روان دي. هغه وایي، د سولې په مسئله کې د ویټو حق لري، خو د هغو ترګرو ډلو او وسله والو په اړه هېڅ راز فشار نه ورباندې راوړل کېږي چې په پاکستان کې فعالت کوي او پراخ مرکزونه لري.

د نبیل په خبره، سوله اوس د پردیو په واک کې ده او د دوی په ګټه مخ ته وړل کېږي: ((وس وینم چې زموږ سوله هم نیابتي شوې. نیابتي سوله په دې معنا چې د افغانستان خلک په دغې سوله کې هېڅ ډول دخالت او ګډون نه لري)).

نبیل په حکومت کې د ځینو داسې مقرریو خبره هم کوي چې د افغانستان د ملي ګټو خلاف دي. د ده په خبره، ولسمشر او ځینو کړیو داسې کسان په دنده ګومارلي چې دوی پراخ فساد کوي، خو له دوی د پوښتنې څوک نشته. هغه وایي: ((د ملي بانک رییس شخصیت ته په درناوي سره اوس خلک همدا اندېښنه لري چې وایي دا یې د تورو پیسو د سپینولو لپاره راوستی دی)).

تر دې وړاندې هم داسې ادعاوې شوې چې ګواکې حکومت په ظاهره د پاکستان د انزوا خبرې کوي، خو په حقیقت کې پاکستان له امریکا، افغان حکومت او روسیې د سترو امتیازونو د اخیستلو په حال کې دی.

## شینواري: که حکومت د پاکستاني تاسیساتو او دروازو په اړه اقدام ونه کړي، پخپله به یې له منځه یوسو

د ننګرهار د شینوارو د شېرو ولسوالیو اوسېدونکو خبرداری ورکړی چې که حکومت په دوربابا کې د پاکستان له لوري د ایښودل شویو دروازو د لرې کولو په اړه اقدام ونه کړي، نو خلک به یې ورانې کړي.

دوی په دورباباولسوالۍ کې د یوې لویې ولسي غونډې پرمهال چې د شینوارو د شپږو ولسوالیو قومي مشرانو، ځوانانو او د خلکو استازو په کې برخه اخیستې وه، دغه خبرداری ورکړی دی.

دوی حکومت ته په دغه برخه کې د اقدام کولو لپاره تر لوی اختره پورې وخت ورکړی او وایي، که حکومت په دې تړاو اقدام ونه کړي، پخپله به لاس پر کار شي.

قومي مشرانو دغه راز د هغو چارواکو د ګوښه کېدو غوښتنه هم کړې چې پر ډیورنډ فرضي کرښه یې د اغزن سیم تېرېدو او په څخوبي کې د دروازو ایږدو پر وخت په دنده کې غفلت کړی دی.

قومي مخور او د اچین ولسوالۍ پخواني ولسوال همېشه ګل خلیل ویلي، که حکومت پر څخوبي د پاکستان له لوري د ایښودل شویو دروازو په تړاو همداسې نرم دریځ ولري او د ړنګېدو لپاره یې اقدام ونه کړي، نو خلک به یې د حکومت له اجازې پرته ور ړنګې کړي.

بل قومي مشر ملک سید حکیم هم ویلي، خلک له مرکزي اداري څخه د هغو چارواکو ګوښه کېدل هم غواړي چې پر ډیورنډ فرضي کرښه یې د اغزن سیم تېرېدو او څخوبي کې د دروازو ایښودو پرمهال یې دنده کې غفلت کړېدی.

په ورته وخت کې د ننګرهار د ولایتي شورا رییس احمد علي حضرت دغې ولسي غونډې ته په وینا کې له حکومت نه پر ډیورنډ فرضي کرښې د پاکستان د وړاندې راتګ، غځول شوي اغزن سیم او ایښودل شویو دروازو پر وړاندې د عملي اقدام غوښتنه کړې ده.

نوموړي خبرداری ورکړی، که اقدام ونه شي، پرته د حکومت له مشورې به خلک سره یوځای او د پاکستاني حکومت پر وړاندې به لاس پر کار شي.

دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې مخکې ختیځو ولایتونو ته د ولسمشر د ملي امنیت د سلاکار حمدالله محب د سفر پرمهال ویلي وو چې نور به پر ډیورنډ کرښه د پاکستاني حکومت تحرکات بې ځوابه  پرې نه ږدي.

## د کتاب خبرې


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

لیکوال: رابرټ کیوساکي
ژباړن: علي‌الله متوکل

**دریمه برخه**

**ستاسو راتلونکی اوس پیلیږي!**

**اتلسم څپرکی**




ایا شرکت عملي کېدونکی ثابت پلان لري؟

د بازارموندنې شتمني او پر ځای پاتې شبکې ستا په وسیله نوې اختراع او نوښت نه کوي، بلکې د هغې بریا پلان په لاس درکوي چې ته یې په لټه کې یې. مثلاً، د ورځنیو او اونیزو فعالیتونو لپاره روزنیز لارښود درکوي. د بازارموندنې ځینې شبکې د پېرودونکو د پوهېدو، تولیداتو شریکولو او فرصتونو لپاره ویبپاڼه درته جوړوي. مسلکي او لومړۍ درجه ابزار لکه سي ډي او ځینې چاپي شیان د همدې شبکو له لارې وړاندې کېږي.

د شرکت لخوا تعلیمي پلان

ایا شرکت په خپل ښوونیز او روزنیز پلان کې تجارتي مهارتونه او ځاني پرمختګ لري؟

مخکې مې دا خبره روښانه کړه چې په شبکه یې بازارموندنه کې تر ټولو غوره دا ده چې تاسو ته زده کړه او روزنه درکول کېږي او دا ان تر پیسو ګټلو اړین دي. نو د زده کړې په درکولو باید ډاډه واوسئ.

پر دې باید ډاډه یاست چې ستاسو شبکه د تجارتي مهارتونو او ځاني پرمختګ پر زده کړه زیات ټینګار کوي. د دې تجارت مشران له لسګونو کلونو راهیسې پوهېږي چې په دې کار کې دایمي زده کړې او هڅونې ګټورې دي. پخوا د زده کړې لپاره کتاب او غږیز مواد غوره بلل کېدل؛ خو په یوویشتمه پېړۍ کې CD, DVD انلاین کنفرانسونه او کتابونه غوره بلل شوي. کتابونه کله هم له لیسته نه ایستل کېږي.

جان: رابرټه! ژوندۍ او مخامخ ناستې هم له دې جملې څخه دي. ان د انټرنېټ په عصر کې هم په مخامخ ناستو کې ګډون خورا زیات رول لري. دومره زیات رول بل شی نشي درلودای.

په دې ورځو کې چې یوه شبکه څومره د انټرنیت او ټلیفون په وسیله جوړېږي، همدومره د مخامخ ناستو په مټ جوړېږي. د بازارموندنې پیاوړې شبکې د تعلیمي، تربیوي او ځاني پرمختګ په خاطر په هر کال، شپږو میاشتو، څلورو میاشتو او هره میاشت کې په ژوندۍ بڼه غونډې جوړوي.

البته تاسو ته زده کړه او روزنه درکول یوازې د بازارموندنې د شبکو کار نه دی، بلکې یو لړ نور کسان او کړۍ شته چې په دې کې لاس لري. هغه کسان چې ستاسو نوم ثبتوي، (Sponser) بلل کېږي، هغه د خپل سپانسر په مرسته، مستقل استازي او خپله د شرکت مدیران تا ته د زده کړې او روزنې درکولو او ستا د پرمختګ لېواله دي.

د شبکه یي بازارموندنې توپیر له نورو تجارتونو سره دا دی چې په هغو کې خلک یو بل پورې وهي چې خپله پرمختګ وکړي. په پخوانیو تجارتونو کې ان ستا غوره ملګری هم تا پر څمکه غورځوي او ځان لوړو پوړیو ته رسوي. د بازارموندنې په شبکو کې سیالي نشته. د شرکت د مسئولینو او مدیرانو بریا ستا په بریا پورې تړلې ده. هغه خلک چې ستا له پرمختګ څخه ګټه پورته کوي، هغوی ستا د پرمختګ په لټه دي.

د شرکت تولیدات

ایا شرکت پیاوړي، باکیفیته او وړ تولیدات لري چې تاسو د هغو له بازارموندنې سره لېوالتیا وښیئ؟

که څه هم د شبکې د ټاکنې لپاره لومړی شرط تولیدات نه دي؛ خو بیا هم ویلای شو چې تولیدات د خپل شهرت په خاطر زښته زیات اړین دي. د شبکه یي بازارموندنې شرکتونه ډېر وخت له رسنیو اعلانونه نه کوي. تاسو به د ښار پر لویو بیلبورډونو او تلویزیونونو کې د هغوی اعلانونه ونه وینئ. دا ځکه چې د دوی د اعلانونو طریقه بېله ده. د دې پر ځای چې پر اعلانونو پیسې ولګوي، پر تاسو یې لګوي.

جان: د بازارموندنې د شبکو پرمختګ د خولې په خبرو کې دی. خلک یو بل ته د تولیداتو، خدماتو او فرصتونو په اړه معلومات ورکوي.

په همدې خاطر کوم خدمات او تولیدات چې د بازارموندنې په شبکو کې بریالي کېږي، هغه د خلکو لیوالتیا له ځان سره لري. یانې خدمات او تولیدات د هغو استعمالوونکو ته عمده ګټې لري. ځینې یې ښه بڼه وړاندې کوي، ځینې یې له ښو موادو جوړ شوي وي، ځینې یې ښه شالید لري او ځینې یې تر نورو ورته تولیداتو او خدماتو غوره وي.

اوازه او شهرت د تولیداتو او خدماتو لپاره خاصه ځانګړنه ده.

تېروتنه ونه کړئ. زه د تولیداتو په اړه مبالغه نه کوم، بلکې موخه مې د هغوی کیفیت او ځانګړنه ده. د کیفیت له مخې ستاسو پر تولیداتو باید حساب وشي.

دا باید یاد ولرو چې د «غوره» تولیداتو په نوم څه نشته. زرګونه تولیدات او خدمات د غوره والي ځانګړنه لرلای شي. په تولیداتو او خدماتو کې د غوره والي خبره تر ډېره موضوعي او ځاني ده. ځینې خلک به د فیشن تولیدات خوښوي، ځینې به د ټکنالوژۍ او ځینې غذایي. که ستاسو کوم تولیدات خوښ شي، نو نورو خلکو ته هم وایئ او هغوی ستاسو په څېر کېږي. یانې تاسو د یوه تولید ښېګڼه ورته بیانوئ، هغوی یې استعمالوي او بیا نورو خلکو ته وایي.

**دوام لري...**

# د شهید سید جان د لوړو زده کړو طبي موسسه

حمیدالله حمیدي




د شهید سید جان د لوړو زده کړو طبي موسسې خپلې رسمي چارې د افغانستان په لوړو زده کړو وزارت کې تر ثبت او راجسټر وروسته په کندوز ولایت کې د یوه پوهنځي (ستوماتولوژي) په درلودلو سره پیل کړې دي. د دې موسسې سرپرست او علمي مرستیال ډاکټر فضلیار وایي، چې د لوړو زده کړو موسسه یې اوس هم همدا یو پوهنځی لري چې عملاً محصلین ور سره په لوړو زده کړو بوخت دي او یاد پوهنځی نور کوم ځانګړي ډیپارټمنټونه نه لري.

د لوړو زده کړو د دې موسسې سرپرست او علمي مرستیال وایي، چې په لومړي سر کې یې د کانکور له ازموینې وروسته ۱۵۲ محصلین جذب کړل، خو په ۱۳۹۴ کال کې کله چې کندوز ولایت سقوط وکړ، ځینې محصلین یې شهیدان او ځینې نورو یې د ناوړه امنیتي شرایطو له کبله له دغه ولایت کډه وکړه، چې دوی ته یوازې ۹۴ محصلین پاتې شول. دی وایي، همدا سږ کال یې دغه محصلین د لېسانس په کچه فارغ او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړل. د ښاغلي فضلیار په خبره، د فارغ شویو محصلینو په ډله کې یې ۱٦ ښځینه محصلینې وې. دغه راز په ۱۳۹۵ کال کې یو ځل بیا د کندوز تر سقوط وروسته دوی ځینې محصلین له لاسه ورکړل، خو اوس په ټوله کې د شهید سید جان د لوړو زده کړو طبي موسسه کې د ۲۴۰ په شاوخوا کې محصلین پر زده کړو بوخت دي.

د نوموړي په خبره، لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو طبي پوهنځیو ته په یوه کانکور ازموینه کې یوازې د سلو نویو محصلینو د جذب اجازه ورکړې ده، مانا دا چې سل تنه په پسرلني او سل تنه په خزاني سمیسټر کې جذبولای شي. دی وایي، دا چې په کندوز ولایت کې د خلکو اقتصادي وضعیت دومره ښه نه دی، نو دوی کولای شي په کال کې یوازې سل تنه نوي محصلین جذب کړي. د شهید سید جان د لوړو زده کړو طبي موسسې سرپرست وایي، چې یوازې د لومړي ټولګي محصلین د ورځې په دوو وختونو او پاتې نور د ورځې یوازې په یوه وخت کې زده کړو ته ورځي. ښاغلی فضلیار وایي، د نورو خصوصي پوهنتونونو په پرتله دوی خپلو محصلینو ته په ډېره لوړه کچه تخفیف ورکوي. دی وایي چې ان تر ۷۰ سلنې پورې تخفیف لري.

په شهید سید جان د لوړو زده کړو طبي موسسه کې د تدریس چارې د ۱۱ استادنو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې په دې ډله کې یوه یې ښځینه استاده او پاتې نور یې نارینه استادان دي. دی وایي چې هڅه یې کړې ده په کار پوه او تجربه لرونکي کسان په دندو وګوماري، څو ټولنې ته هم مسلکي کسان د خدمت په موخه وړاندې کړي.

د لوړو زده کړو په یاده موسسه کې د محصلینو او استادانو لپاره د کتابتون اسانتیا هم برابره شوې ده. ښاغلي فضلیار وایي چې په کتابتون کې یې د ستوماتولوژۍ پوهنځي اړوند د ۱٦۰۰ په شاوخوا کې کتابونه ځای پر ځای کړي دي. د کتابتون تر څنګ یې د محصلینو د عملي کار لپاره څلور یونټونه هم ځای پر ځای کړي دي چې محصلین کولای شي له نظري زده کړو وروسته په دغو یونټونو باندې عملي کار هم وکړي.

دی وایي، هڅه کوي په کندوز ولایت کې د محصلینو لپاره د عملي کار زمینه برابره کړي، خو دا چې په کندوز ولایت کې امنیت سم نه دی او نه هم کوم کادري دولتي روغتون شته چې محصلین ور واستوي، نو په دې برخه کې له ستونزو سره مخ دي. له دې سره سره یې هڅه کړې ده چې په کابل کې له دولتي کادري روغتونونو سره خبرې وکړي، څو خپل محصلین د سه تاج دورې بشپړولو لپاره ور واستوي، خو تر اوسه یې ترې مثبت ځواب نه دی اورېدلی. دی وایي، تر ډېره دولت په کندوز او یا خپله په کابل ولایت کې هم دومره امکانات نه لري چې د دولتي پوهنتونونو د طبي پوهنځیو د محصلینو تر څنګ د خصوصي پوهنتونونو محصلینو ته هم د عملي کار یا سه تاج دورې بشپړولو لپاره زمینه برابره کړي، نو دوی اړ دي چې په دې برخه کې له ځینو خصوصي روغتونونو سره خبرې وکړي او خپل محصلین ور واستوي.

د شهید سید جان د لوړو زده کړو طبي موسسې سرپرست او علمي مرستیال وایي، چې دوی په کندوز ولایت کې د خصوصي پوهنتونونو یوه اتحادیه لري، چې دغه اتحادیه په کابل کې د خصوصي پوهنتونونو له اتحادیې سره په اړیکه کې ده. کله چې له کومې ستونزې سره مخ کېږي، نو اول هڅه کوي چې ستونزه یې خپله په ولایت کې حل شي او که په ولایت کې حل نه شي، نو بیا له مرکزي اتحادیې سره شریکېږي او هغوی یې په حل کې ور سره مرسته کوي. دی وایي چې په دې سره ویلای شي چې له ټولو خصوصي پوهنتونونو او تر څنګ یې د هېواد په کچه له دولتي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري.

ښاغلی فضلیار وایي، افغان حکومت په ځانګړې توګه لوړو زده کړو وزارت محصلینو ته د عملي زده کړو په برخه کې کومه ځانګړې پاملرنه نه ده کړې، خو دوی هڅه کوي چې د نظري زده کړو تر څنګ خپلو محصلینو ته د عملي زده کړو زمینه برابره کړي. دی وایي، کتابتون یې د محصلینو او استادانو په چوپړ کې دی او تر څنګ یې د عملي زده کړو لپاره محصلینو ته د غاښونو جوړولو یونټونه هم په واک کې ورکړي دي. دی وایي، وخت ناوخت محصلینو ته سمینارونه او ورکشاپونه دایروي، څو یې محصلین تجربې خپلې کړي او وړتیاوې یې لوړې شي.

د شهید سید جان د لوړو زده کړو موسسې اداره د دې تر څنګ چې د لوړو زده کړو موسسه لري، په طبي برخه کې د نیمه لوړو زده کړو انستېټیوت هم لري چې د فارمسۍ، قابلګۍ او طبي تکنالوژۍ په برخه کې کسان روزي. ښاغلی فضلیار وایي چې لوړو زده کړو وزارت ته یې غوښتنلیکونه سپارلي، څو د ستوماتولوژۍ پوهنځي تر څنګ د ځینو نورو طبي پوهنځیو د فعالیت جوازونه ورکړي او دا یې د موسسې د پرمختګ په راتلونکو پلانونو کې دي.

د لوړو زده کړو د دې موسسې اداره د لوړو زده کړو وزارت له لوري د کیفیت د تضمین پروګرام پیلولو هرکلی کوي، خو یوه ترخه خاطره هم ترې لري. ډاکټر فضلیار وایي چې دوه کاله وړاندې دوی ته د کیفیت د تضیمن پروګرام په اړه د لوړو زده کړو وزارت له لوري یو مکتوب ورسېد، چې په اصلي موخه یې دوی پوه نه وو، خو له یوه کال وروسته د لوړو زده کړو وزارت له لخوا د ورغلي پلاوي له لوري د یوه کال لپاره د دوی موسسه وتړل شوه، چې دغه څه یې د افغانستان بیا په ځانګړې توګه د کندوز په کچه د دوی اعتبار صفر ته را ښکته کړ. دی وایي چې نه یوازې دوی ته یې اقتصادي ضربه ورسوله، بلکې اعتبار یې هم ور زیانمن کړ. ښاغلی فضلیار وایي چې لوړو زده کړو وزارت ته پکار وه چې لومړی یې په دې برخه کې خصوصي پوهتونونو ته عامه پوهاوی ورکړای وای او وروسته یې بیا دغه پروګرام پیل کړی وای. نوموړی وایي چې له یوکال ځنډ وروسته دوی په زړه نا زړه بېرته خپلې چارې پیل کړې، خو هغه ضربه چې خوړلې یې ده، تر اوسه هم دوی هغه ځای ته نه دي رسېدلي چې تر دې مخکې وو. دی وایي، لوړو زده کړو وزارت د دې پر ځای چې د یوه خصوصي پوهنتون په توګه یې د دوی ملا تړلې وای، اقتصادي او روحي ضربه یې ورکړه.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸۷.۷۰ |
| Rp. | ۴۵۷ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۵,۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# اهمیت حمایت از کارمندان و ۵ مرحله اجرای درست آن

امین همتی

فرض کنید رسیده‌اید شرکت و حسابی هم مشتاق شروع کارتان هستید، اما به علت مشکلات فنی، ۲۰ دقیقه‌ای طول می‌کشد که لپ‌تاپ‌تان بالا بیاید.

بعدش چشمان‌تان به علت چشمک زدن چراغ روی میز، درد می‌گیرد و در ضمن مجبورید در دفتر کت بپوشید، زیرا سیستم گرمایش دوباره خراب شده است.

به علاوه، نیاز به کمک دارید، اما جایگاه مسئول اجرایی شما در اداره هنوز خالی است و هر چه می‌گردید، دستگاه منگنه را هم پیدا نمی‌کنید!

اگر چه این مثالی اغراق‌آمیز است، اما بیشتر ما می‌دانیم که کار بدون پشتیبانی درست، یعنی اوضاع بدون کمک ابزارها و منابع مورد نیاز برای انجام اثربخش کارها، چقدر می‌تواند ناامیدکننده و استرس‌زا باشد.

اگر سمت مدیریتی دارید، یکی از مهم‌ترین مسئولیت‌هایتان اطمینان از این است که اعضای گروه‌تان هر چیزی را که برای کار ایمن، راحت و مؤثر نیاز دارند، در اختیار داشته باشند. در این مقاله، آنچه را برای رسیدن به این هدف باید انجام دهید، بررسی می‌کنیم.

**اهمیت پشتیبانی خوب**

همه‌ی ما به «ابزارهایی» مناسب برای انجام کارمان نیاز داریم. این ابزارها می‌توانند اشیائی فیزیکی، مانند کامپیوتر، صندلی راحت، تلفن همراه و چراغ رومیزی سالم یا ابزارهای غیرملموسی، مانند آموزش، حمایت مدیران و همکاران یا جریان منظم اطلاعات قابل اعتماد باشند. اگر ابزارهای مورد نیاز برای انجام کارمان را نداشته باشیم، کارایی پایین می‌آید و سریع ناامید، عصبانی و دچار استرس می‌شویم.

بر اساس نظر رود واگنر (Rodd Wagner) و جیمز هارتر (James Harter)، محققان گالوپ و نویسندگان کتاب «The Elements of Great Managing» در سال ۲۰۰٦، مهم‌ترین کاری که برای شادی و اثربخشی افرادتان می‌توانید انجام بدهید، ارائه‌ی ابزارها، منابع و تجهیزات درست به آنهاست.

مزایای بسیاری در حصول اطمینان از اینکه اعضای گروه‌تان دارای حمایت مورد نیاز باشند، وجود دارد. این امر، کار را به‌وضوح راحت‌تر، ایمن‌تر و لذت‌بخش‌تر می‌کند و به افرادتان کمک می‌کند تا کارایی بیشتری داشته باشند.

علاوه بر این‌ها، همه‌ی ما می‌خواهیم کارمان را درست انجام دهیم و می‌خواهیم در جهان پیرامون‌مان تغییری ایجاد کنیم. وقتی ابزارها و حمایت‌های درست را نداشته باشیم، نمی‌توانیم کار ارزشمندی انجام دهیم و بودن در این موقعیت، ناامیدکننده و از نظر احساسی، خسته‌کننده است.



اینکه اعضای گروه‌تان منابع مورد نیازشان برای انجام درست کار را داشته باشند، نه‌تنها علامتی از حمایت و اعتماد شما به آنها، بلکه نشانه‌ی حمایت و اعتماد از سوی کل سازمان است و این انگیزه مهمی است.

**توجه:**

توجه داشته باشید که وقتی از اعضای گروه‌تان حمایت می‌کنید، در حقیقت آنها را قادر می‌سازید که خودشان کار را انجام دهند؛ نه اینکه شما برای‌شان انجام دهید.

**ارائه‌ی پشتیبانی درست**

بنابراین، چگونه مطمئن می‌شوید که افرادتان هر چیزی را که برای انجام کار مفید لازم دارند، در اختیار خواهند داشت؟ پنج مرحله‌ی زیر را برای تجهیز گروه‌تان در راه موفقیت دنبال کنید.

**مرحله‌ی ۱: بپرسید**

بسیار واضح است؛ یکی از بهترین راه‌ها برای یافتن چیزهایی که اعضای گروه‌تان نیاز دارند، پرسیدن از آنهاست. آنها می‌توانند بلافاصله بگویند که چه چیزهایی خوب است و چه چیزهایی نه. گاهی اوقات، پرسیدن سؤال‌های بسیار خاص می‌تواند برای مشخص کردن ابزارها و منابعی که اعضای گروه نیاز دارند، کمک‌تان کند. این پرسش‌ها را امتحان کنید:

بزرگترین سرخوردگی‌هایتان در کار چه هستند؟

آیا ابزارهای فیزیکی لازم برای کارتان را در اختیار دارید؟

آیا اغلب مجبور می‌شوید برای اطلاعات مهم، پرس‌وجو کرده یا در انترنت جست‌وجو کنید؟

آیا می‌توانید به راحتی با دیگر اعضای گروه تماس بگیرید؟

آیا جریان اطلاعات موجود در اداره یا گروه، موثر است؟

آیا هیچ بخشی از کار روزانه یا فرایندهای چرخه‌ی کاری‌تان ناکارآمد هستند؟

آیا آموزش‌های لازم برای انجام درست کار را گذرانده‌اید؟

آیا آموزش‌های اضافی کارتان را بهبود می‌بخشد، یا آن را کارامدتر می‌کند؟

چه چیزی در طول روز بیشترین فشار را به شما می‌آورد؟

می‌توانید این پرسش را شخصاً از طریق ایمیل، یا حتی از طریق بررسی رضایت کارمندان مطرح کنید.

**مرحله‌ی ۲: نظارت مؤثر بر کار**

چقدر کار گروه‌تان را از نزدیک دنبال می‌کنید؟ یکی از روش‌های مهم برای اینکه حمایت کنید، این است که با وظایف و پروژه‌های گروه‌تان درگیر بمانید. مدیرانی که دیده می‌شوند، از کسانی که دور هستند یا دسترسی به آنها سخت است، قابل اعتمادترند.

یکی از بهترین راه‌های نظارت بر کار گروه‌تان، این است که مدیریت با گشت‌زنی (MBWA) به اطراف را انجام دهید. این کار، هر روزه فرصت دیده شدن، ارتباط با گروه و دادن اطلاعات را به آنهایی که برای کار مؤثر به آن نیاز دارند، فراهم می‌کند.

اگر چه باید بالای سر گروه‌تان باشید، اما از مدیریت ذره‌بینی روی اعضای گروه بپرهیزید. اگر بیش از اندازه دنبال‌شان کنید، یا بیش از حد درگیر وظایف‌شان شوید، باعث می‌شوید احساس استرس یا بی‌میلی کنند. با بررسی‌های منظم و نشان دادن علاقه‌ای صادقانه به آنچه انجام می‌دهند و بعد هم اعتماد به آنها در انجام کارهایشان، تعادل مناسبی ایجاد کنید.

جنبه‌ی مهم دیگر حمایت، ارائه‌ی بازخورد موثر و منظم است. این موضوع اطلاعات مورد نیاز برای پیشرفت و رشد را در اختیار افرادتان قرار می‌دهد. اگر آنها بازخوردی دریافت نکنند، شاید فکر کنند که شما اصلاً برای آن‌ها اهمیتی قائل نیستید یا توجهی ندارید. در بدترین حالت، احساس می‌کنند که کارشان اصلا اهمیتی ندارد.

**مرحله‌ی ۳: حمایت مدیریتی ارائه کنید**

اعضای گروه‌تان نیازمند حمایت شما در جایگاه مدیر هم هستند.

ابتدا مطمئن شوید که می‌دانند چه انتظاری از آنها دارید. مطمئن شوید که شرح وظایف شغلی مشخص است، از مدیریت بر مبنای اهداف استفاده کنید، اهداف مناسب را تعیین کنید و به افراد کمک کنید برای رسیدن به آن اهداف، تلاش کنند.

باید با برقراری ارتباط با اعضای گروه‌تان، از آنها حمایت کنید. این کار یعنی مطلع نگه داشتن آنها در موقعیت‌های استرس‌زا، اطمینان از این که آنها می‌دانند کجای پروژه‌های بزرگ هستند و برقراری ارتباط از طریق کار روزمره‌ی همیشگی تا ن .

شما به عنوان مدیر، باید بزرگترین مشوق آن‌ها باشید. آنچه را می‌توانید برای حمایت از ایده‌ها، تصمیم‌ها و ابتکارات‌شان به کار ببرید. اعضای گروه‌تان باید این را هم بدانند که شما نسبت به آنچه انجام می‌دهند هیجان‌زده هستید و از تلاش‌هایشان حمایت می‌کنید. تشکر کردن و تحسین گروه‌تان در زمان مناسب، روش مهم دیگری برای انگیزه دادن به کارمندان است.

در نهایت، به آموزش‌ها و مهارت‌های اعضای گروه‌تان نگاه کنید. آیا دانش مورد نیاز را برای انجام موثر کارهایشان دارند؟ اگر مطمئن نیستید، نیازهای آموزشی آنها را ارزیابی کنید تا دریابید آیا آنها آموزش مورد نیاز را دیده‌اند یا نه.

**مرحله‌ی ۴: به ایمنی توجه کنید**

افراد شما شایسته‌ی محیط کاری سالم و ایمن هستند. این وظیفه‌ی شماست که مطمئن شوید آنها شاد و راضی هستند و می‌توانند کارشان را به‌درستی انجام دهند.

در سازمان یا اداره‌تان قدم بزنید. مطمئن شوید که فضا تمیز و راحت است و روشنایی خوبی دارد. ساختمان‌تان باید سالم و دارای تهویه‌ی مطبوع هم باشد و به‌طور ایده‌آل باید محیط کاری شاد و راحتی باشد. به میز و صندلی اعضای گروه‌تان هم نگاه کنید. آیا کسی از عدم راحتی یا استرس‌های مکرر شکایت دارد؟ اگر چنین است، مشکل را پیدا کنید.

**مرحله‌ی ۵: تجهیزات و لجستیک را تأمین کنید**

تجهیزات و لجستیک گروه‌تان، اشیائی فیزیکی هستند که اعضاء برای انجام درست کارشان به آنها نیاز دارند.

هر وقت که امکانش هست، به اعضای گروه‌تان اجازه بدهید ابزارها و تجهیزات مورد نیازشان را برای انجام کار انتخاب کنند. واگذاری این مسئولیت نه تنها به آنها خودمختاری می‌دهد، بلکه موثرتر هم هست؛ زیرا آنها بهترین کسانی هستند که می‌توانند بهترین ابزار را برای انجام کارشان انتخاب کنند.

# د مصالحې عالي شورا: حکومت او طالبان دې د بندیانو د خلاصون بهیر په سوله ییزه توګه بشپړ کړي

د مصالحې عالي شورا وايي، طالبان باید په داسې مواردو ټینګار ونه وکړي چې هغه د سولې بهیر له ستونزو سره مخ کوي.

د دغې شورا ویاند فریدون خوځون له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې غوره دا ده چې دواړه لوري د بندیانو د خلاصون بهیر په سوله ییزه توګه بشپړ کړي.

دا په داسې حال کې ده چېد افغان حکومت او طالبانو تر منځ د بندیانو تبادلې په لړ کې د نږدې شپږسوو بندیانو جنجال لا هم پر ځای پاتې دی، هغه څه چې ظاهراً یې د سولې د بین الافغاني خبرو پیلېدل له کړکېچ سره مخ کړي دي، خو لا هم دواړه په خپلو دریځونه ولاړ دي.

په ورته وخت کې د ملي مصالحې عالي شورا ټینګار کوي چې دواړه لوري دې دا موضوع په سوله ییزه توګه حل کړي.

د دغې شورا ویاند فریدون خوځون ازادي راډیو ته ویلي، چې طالبان دې په داسې مواردو ټینګار نه کوي چې دوی له سولې لرې کوي.

هغه زیاته کړې: «طالبان باید په ډېرو داسې مسایلو چې هغه د سولې له پروسې سره مرسته نه کوي، ټینګار ونه کړي، زموږ تمه دا ده که چېرې سولې ته اراده موجوده وي، ښه دا ده چې په هغو خبرو دې ټینګار وشي چې د سولې له بهیر سره مرسته کولای شي او په دې پروسه کې موږ د بین الافغاني مذاکراتو پیل ته نږدې کوي، حکومت او طالبان دې د بندیانو په بهیر کې داسې یو تفاهم ته ورسېږي چې هغه د بندیانو پر سر رامنځته شوی جنجال حل کړي.»

د مصالحې عالي شورا داسې مهال پر دې موضوع ټینګار کوي، چې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د ۵۹۲ طالب بندیانو پر نه خلاصون جنجال دی.

د افغانستان د ملي امنیت شورا تر دې وړاندې ویلي وو چې دا شمېر کسان ځکه نه خوشې کوي چې جرمي دوسیې لري، خو طالبان بیا دغه ادعا ردوي او دا ډله بندیان هم سیاسي بندیان بولي.

په ورته وخت کې یوې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط مسیر ورځپاڼې ته وویل چې د طالبانو د لېست له مخې د شپږ سوو پاتې شویو زندانیانو له ډلې پنځوس تنه بندیان تېر ماښام د حکومت له زندانونو آزاد شوي دي. یادې حکومتي سرچینې د دغه خبر د پخلي تر څنګ وویل چې نن به له پاتې ډلې زندانیانو څخه اویا تنه نور هم آزاد شي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

if You Can Think it, we Can ink it.

WAYGAL PRINTING CO

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

waygalprinting.co

waygalprinting.co@gmail.com



یکشنبه د ۱۳۹۹ د زمري پنځمه | د ۲۰۲۰ د جولای ۲٦مه | ۵۷۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۷ | ۲۷ | ۳۹ | ۴۰ | ۳۳ |
| ۲۰ | ۲۲ | ۱۹ | ۳۵ | ۲۵ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱٦ | لمر ختل ۰٤:۵۵ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیګر ۰۳:٤٦ | ماښام ۰۷:۰۵ | ماخوستن ۰۸:٤۵

## خلیلزاد: ایران از تلاش ها برای آوردن صلح در افغانستان حمایت کافی نمی کند



زلمی خلیلزاد، نمایندهٔ خاص امریکا برای روند صلح افغانستان می گوید که ایران از تلاش ها برای آوردن صلح در افغانستان حمایت کافی نمی کند.

موصوف در یک نشستی که با اشتراک سفرای افغانستان، ازبکستان و قزاقستان در واشنگتن برگزار شد، گفت که ایران از آغاز مذاکرات بین الافغانی و رسیدن به یک توافق صلح در افغانستان به اندازه لازم حمایت نکرده است و به گفتهٔ وی، دلیل اصلی این اقدام ایران، وضعیت روابط بین تهران و واشنگتن می باشد.

خلیلزاد با اشاره به سفر اخیر عباس عراقچی، معاون وزارت خارجه ایران به کابل گفت: «اگر آنچه را معاون وزیر خارجه ایران چند روز پیش در کابل بیان کرد، جدی بگیریم که گفت او روند صلح افغانستان را نمی پسندند و نه حضور نظامی امریکا در افغانستان را می پسندند... این یعنی فرمول را که ایران ترجیح می دهد اینست که امریکا افغانستان را بدون (به سر رساندن) روند صلح ترک کند که این به معنی (ادامه) جنگ در افغانستان می باشد.»

وی همچنین افزود، از اینکه ممکن اختلافات و رقابت کشور های خلیج فارس و همچنین کشور های آسیای جنوبی چالشی را در رستای دست یافتن به اجماع منطقه یی برای روند صلح افغانستان ایجاد کند، نگران می باشد. خلیلزاد بار دیگر تاکید کرد که خروج کامل سربازان امریکایی از افغانستان مشروط بوده و تصامیم و عمل کردن به تعهدات امریکا در توافق نامه صلح با طالبان، بستگی به عمل کردن طالبان به تعهدات شان دارد. در همین حال، ارژان قاضیقانوف، سفیر قزاقستان در واشنگتن گفت که امریکا باید مسؤلانه از افغانستان بیرون شود.

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر ٦۴۷ زره ۵۹۵ کسانو ته رسېدلی

د تازه شمېرو له مخې، په اروپايي هېوادونو او امریکا کې د کرونا ویروس پېښې په چټکۍ سره د ډېرېدو په حال کې دي. له دې سره جوخت د روغتیا نړیوال سازمان خبرداری ورکړی چې ښاییدا مسئله یو وار بیا د اقتصادي محدودیتونو د لګولو سبب شي.

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۱٦ میلیونو اوښتي او د دغه ویروس له کبله تر دې دمه ٦۴۷ زره ۵۹۵ کسان مړه شوي او نږدې لس میلیونه تړې بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، کرونا ویرس تر ټولو زیاتې مثبتې پېښې په امریکا کې ثبت شوې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۱۵۰ زره امریکایان مړه شوي دي. د راپورونو له مخې، په اپرېل میاشت کې د امریکا په متحدو ایالتونو کې د ورځې په اوسط ډول د مړینو شمېر ۲۰۰۰ ته هم رسېدلی دی. په ورته وخت کې د کرونا ویروس د چټک خپرېدو له وېرې ولسمشر ټرمپ اړ کړ چې د دویم ځل لپاره د جمهوریت غوښتونکي ګوند لویه انتخاباتي غونډه لغوه کړي. نوموړي تمه درلوده چې په دغو لویو غونډو کې د بیا ټاکل کېدو لپاره کمپاین وکړي.

## راپورونه: په سوډان کې په یوه وسله واله نښته کې شل کسان وژل شوي او لسګونه نور ټپیان شوي



د راپورونو له مخې، وسله والو د سوډان د دافور په سیمه کې په کلیوالو ډزې کړي او د ماشومانو په ګډون یې شل تنه وژلي او لسګونه نور یې ټپیان کړي دي.

د غربي رسنیو د راپورونو له مخې، وژل شوي کسان بزګران وو چې د څو کلونو وروسته خپلو ځمکو او باغونو ته ستانه شوي وو. دا په داسې حال کې ده چې د لیبیا حکومت نږدې دوې میاشتې وړاندې په دې سیمه کې د ځمکو د خاوندانو او هغو ډلو تر منځ روغه کړې وه چې دغه ځمکې یې په زور نیولې وې.


په تړون کې ویل شوي وو چې د ځمکې خاوندان کولی شي بیرته خپلې ځمکې تر لاسه کړي، خو کله چې هغوی سیمې ته ستانه شول، وسله والو پرې برید وکړ او یاده مرګ ژوبله یې ور واړوله.

د سوډان د دافور په سیمه کې د ۲۰۰۳ ز کال راپه دېخوا د قبایلي یاغیانو چې شکایت لري حکومت یې برخه نه ورکوي او د یوې وسله والې ډلې تر منځ چې پخواني دیکتاتور عمر بشیر ته وفادار دي، وخت ناوخته جګړې کېږي.

د ملګرو ملتونو د معلوماتو له مخې، په دې جګړې کې تر اوسه ۳۰۰ زره کسان وژل شوي او ۲.۵ میلیونه نور د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شوي دي.


## ژوند

## شتمن کسان نړۍ ته شتمن نه دي راغلي



که تاسو په یوه شتمنه کورنۍ کې دنیا ته سترګې وغړوی، د دوو دلیلونو له مخې تاسو هم شتمن کېدای شی. لومړی دا چې کېدای شي چې له مور او پلار څخه یوه زیاته اندازه پیسې درته په میراث پاتې شي او یا هم د لومړنۍ پانګونې پر مهال در سره مرسته وکړي، خو تر ټولو مهم دویم دلیل دی، ځکه که چېرې تاسو د یوې شتمنې کورنۍ غړي وی، نو کېدای شي د شتمنۍ پیدا کولو په اړه مو د منفي افکارو په پرتله مثبت هغه زیات وي او یو ډول د کاروبار لپاره له مخکې جوړ شوی مثبت ذهن ولری. دغه مثبت لیدلوری د دې لامل کېږي چې په ډېرې اسانۍ سره مالي خپلواکي خپله کړی. خو د شتمنو کسانو داسې زامن هم شته چې نه یې د خپل پلار شتمني زیاته کړې، بلکې د پلار ګټلې یې هم څټلې دي. که تاسو هم خپلې شاوخوا ته وګوری، وبه وینی ډېر هغه کسان چې په یوه خورا بېوزله کورنۍ کې پیدا شوي دي، له پاکې او حلالې لارې د شتمنۍ د غره لوړو څوکو ته رسېدلي دي.

## ون‌پلس غوره او ارزانه بیه ځیرک موبایل معرفي کړ



ون‌پلس کمپنۍ چې د خپلو پیاوړو خو ارزان بیه لرونکو ځیرکو موبایلونو له امله نړیوال شهرت درلود، په دې وروستیو کې د خپلو ځیرکو موبایلونو بیې لوړې کړې وې. د ون‌پلس کمپنۍ دغه ځیرک موبایل ون‌پلس نورډ نومول شوی چې له ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوي او د کوالکوم کمپنۍ سنپ ډراګن ۷٦۵ ډوله پروسېسر په کې کارول شوی. که څه هم دا یوه منځنۍ ورتیا لرونکی پروسېسر دی، خو د دغه ځیرک موبایل پاتې ځانګړنې ډېرې غوره او پیاوړې دي. دغه ځیرک موبایل ٦، ۸ او ۱۲ ګیګابایټ رم او ٦۴، ۱۲۸ او ۲۵٦ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لري. ون‌پلس نورډ کې ۴۱۱۵ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ کارول شوې چې ورسره شته ۳۰ واټ وړتیا لرونکي چارجر په مرسته یوازې نیم ساعت کې ٪۷۰ پورې چارجېږي. دغه ځیرک موبایل به په پیل کې اسیا او اروپا کې خرڅلاو ته وړاندې شي او د ۸ ګیګابایټ رم او ۱۲۸ ګیګابایټ فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه یې ۳۳۰ یورو (تقریباً ۲۵۰۰۰ افغانۍ) څخه پیلېږي.


ماسټر ډبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.



عزیزي بانک Azizi Bank

www.azizibank.af 1515